# د افغانستان اقتصادي پرمختگ

## (خبرپاڼه)

دويم کال - ۴۴مه گڼه | پرله‌پسې ۵۸مه گڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۱۱/۲۳



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختگ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستيو اقتصادي فعاليتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې گڼه کې لولئ:

۱- بهرنيو پانگوالو ته د اقامې ورکړې سره د بهرنۍ پانگونې د لا ډېر جذب هڅې

۲- د کبانو روزلو سکتور پراختيا طرحې سره د کار موندنې او ځان بسياينې په لور تگ

۳- د عزيزي گروپ د انرژۍ توليد پروژو سره د اقتصادي ودې زمينې برابرېدل

# بهرنیو پانګوالو ته د اقامې ورکړې سره د بهرنۍ پانګونې د لا ډېر جذب هڅې

د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسۍ په رڼا کې هڅه کوي څو هېواد د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې له پاره په یوه جذابه او باوري فضاء بدل کړي. په دې اړه په وروستیو کې هڅې زیاتې شوې دي.

په همدې لړ کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډې ته، چې د ۱۴۰۴ د سلواغې په ۱۸مه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې په مقابل کې د اقامې د ورکړې موضوع د بحث له پاره وړاندې شوه. په کمېسیون کې دا موضوع تایید شوه او یوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه چې د بهرنیو پانګوالو د پانګونې کچې ته په کتو د اقامې د ورکړې وخت په کټګوریو ووېشي او خپل راپور د کمېسیون راتلونکې غونډې ته وړاندې کړي.

د یادې طرحې پر بنسټ، بهرنیو پانګوالو ته به له یو تر لسو کلونو پورې د افغانستان د اقامې د ورکړې زمینه برابره شي. دا اقدام نه یوازې بهرنیو پانګوالو ته د قانوني اوږد مهاله حضور اسانتیا برابروي، بلکې هغوی ته دا باور هم ورکوي چې کولای شي په اوږد مهال ډول په افغانستان کې اقتصادي فعالیتونه ترسره کړي. بهرنیو پانګوالو ته په افغانستان کې د اقامې د ورکړې اسانتیا کولی شي چې په هېواد کې د پانګونې کچه لوړه او بهرني پانګوال هېواد ته په راتګ لا ډېر وهڅېږي.




کله چې پانګوال د خپل قانوني حضور، تګ راتګ او استوګنې په برخه کې ډاډ ترلاسه کړي، نو هېواد ته راځي، چې د دوی د راتګ او پانګونې له امله به افغانستان ته پانګه راشي، پروژې به پیل او کاري فرصتونه به ایجاد شي. په افغانستان کې د پانګونې له پاره ښه فرصت موجود دی او بهرني پانګوال کولی شي چې د اسلامي امارت د نورو اسانتیاوې ترڅنګ له دې ګټورې اسانتیا ګټه واخلي او په افغاستان کې په مختلفو سکتورونو کې پانګونه وکړي.

د اقتصادي کمېسیون دا پرېکړه په افغانستان کې د اقتصادي پرمختګ له پاره نوی باب پرانیزي، چې له پلي کېدو او د بهرنیو پانګوالو له راتګ سره د هېواد اقتصادي پرمختګ باندې ژور اغېز کولی شي.

# د کبانو روزلو سکتور پراختیا طرحې سره د کار موندنې او ځان بسیاینې په لور تګ

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډې ته، چې د ۱۴۰۴ د سلواغې په ۲۱مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د کبانو د روزنې سکتور د پراختیا طرحه د بحث او تایید له پاره وړاندې شوه، چې د کمېسیون له لوري تایید شوه.

دا طرحه د خصوصي سکتور د پانګونې له لارې د کبانو د تولید او روزنې د پراخولو په موخه جوړه شوې، څو د هېواد دننه د خوراکي اړتیاوو د پوره کولو ترڅنګ د کارموندنې نوې زمینې هم برابرې کړي.

د طرحې پر بنسټ به د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د ۶۵۰۰ هکتاره ځمکې پر مخ د کبانو د تولید او روزنې ۷۷۰۰ کوچنۍ، متوسط او لوی فارمونه جوړ شي. دا فارمونه به د خصوصي سکتور په پانګونه رامنځته کېږي. د یادې طرحې پلي کېدو سره به په مستقیم ډول ۵۰ زره او په غیر مستقیم ډول به شاوخوا ۲۵۰ زره هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي.

د افغانستان اسلامي امارت له خصوصي سکتور څخه خپل ملاتړ ته لومړیتوب ورکوي

او دا طرحه ښيي چې اسلامي امارت د هېواد په پرمختګ کې د خصوصي سکتور ونډه له پامه نه غورځوي.

د کبانو روزلو سکتور پراختیا نه یوازې د کاري فرصتونو د ایجاد له پاره مهمه ده، بلکې د دې سکتور پراختیا سره به د کبانو کورني تولید کچه لوړه او د کبانو په بهرنیو وارداتو به د افغانستان تکیه راکمه شي. دغه راز، په دې سکتورکې به د ځان بسیاینې په لور ځو ګامه نور هم نږدې شو، چې د وخت په تېرېدو سره کېدلی شي نورو هېوادونو ته



## د عزیزي ګروپ د انرژۍ تولید پروژو سره د اقتصادي ودې زمینې برابرېدل

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۴ کال د سلواغې په ۲۲مه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د افغانستان برېښنا شرکت او عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت ترمنځ د ۸۴۵ مېګاواټه په ظرفیت د برېښنا تولید د پنځو مهمو پروژو د عملي چارو د پیل تړونونه لاسلیک شول.

د تړونونو له مخې به د عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت په بېلابېلو ولایتونو کې له لمریزې او ډبرو سکرو څخه لسګونه مېګاواټه برېښنا تولید کړي. په دې پروژو کې د کابل ولایت په نغلو سیمه کې ۱۰۰ مېګاواټه لمریزه برېښنا، د پروان ولایت د باریک اب په سیمه کې ۱۰۰ مېګاواټه لمریزه برېښنا او په غزني ولایت کې ۱۳۰ مېګاواټه لمریزه برېښنا تولیدېږي. دغه راز به په تخار ولایت کې ۱۶۵ مېګاواټه او په بغلان ولایت کې ۳۵۰ مېګاواټه برېښنا د ډبرو سکرو څخه تولید شي.

په دغو پروژو شاوخوا ۴۶۳ میلیون ډالر پانګونه کېږي. ټاکل شوې ده چې د لمریزې برېښنا پروژې به په دوه کلونو او د ډبرو سکرو پروژې به په درېیو کلونو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د یادو پروژو پلي کېدل به د هېواد د برېښنا د تولید ظرفیت لوړ کړي، د انرژۍ په برخه کې به د ځان بسیاینې پر لور مهم ګام واخیستل شي او د وارداتي برېښنا کچه به ورسره تر ډېره راکمه شي. د دې پروژو یوه بله مهمه ګټه پر وارداتي برېښنا د پیسو د ورکړې مخنیوی دی. اوس هر کال شاوخوا ۲۵۰ میلیون ډالر پر وارداتي برېښنا مصرفېږي، چې د عزیزي ګروپ د دې نویو پروژو سره به دغه کچه تر یوې اندازې راکمه شي. دغه راز، د دې پروژو په عملي کېدو سره به په هېواد کې نه یوازې صنعتي فعالیتونه زیات شي، بلکې د ډېرو هېوادوالو کورونه به هم روښانه کړي. د صنعتي فعالیتونو په پراختیا سره به سلګونه هېوادوالو ته کاري فرصتونه هم برابر شي.

